مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۰

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
### (شپږ اتيایمه برخه)

## ډاکټر محمد احسان رفيق

د پلان د وزارت د خصوصي تشبثاتو د رئيس، محمد يونس د ورور، محمد عمر رفيق زوی په ۱۹۲۸ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۵ز کال کې د استقلال له ليسي څخه فارغ سوی دئ. فرانسي ته لاړ او په کرنيزې انجنيری کې ئې د فراغت سند تر لاسه کړ او په ۱۹۵۷ز کال کې ئې خپله دکتورا په اقتصادي علومو کې د فرانسې د سوربون له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د کرنې په وزارت کې د پراختيايي خدماتو عمومي مدير او وروسته رئيس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د کرنې او اوبو لګولو د وزارت مرستيال وزير. په ۱۹۶۷ز کال کې ئې د کرنې او خوراک د سازمان - ژ FAO [1] په عمومي اسامبلې کې ګډون وکړ. په ۱۹۷۱ز کال کې د هرات والي. په ۱۹۷۴ز کال کې د اقتصاد د عالي شورى د اقتصاد د مشورتي بورډ غړی. په فارس او ترکيې کې د پخواني سفير اسدالله سراج له لور سره ئې وادهٔ کړی او درې بچيان لري. د امريکا په متحده ايالاتو کې اوسېږي.

## محمد عمر رفيق

محمدزی دئ. د محمد رفيق زوی. په هندوستان کې زېږېدلی دئ او يو وخت د پنجاب نائب تحصيلدار وو. د ۱۹۱۶ز کال د جون په مياشت کې کابل ته راغی. په ۱۹۲۶ز کال کې د چاريکارو حاکم وټاکل سو. د سردار سليمان خان له يوې لور سره ئې وادهٔ وکړ او په دې توګه د سپه سالار نادر خان له کورنی سره ئې د خپلوی اړيکه ومونده. د ۱۹۳۲ز کال د مارچ په مياشت کې د کابل والي په توګه مقرر سو. نوموړی مخکې له دې چې د کابل والي سي د کابل د ګمرکاتو مدير وو. په ۱۹۳۴ز کال کې دی په برلين کې د سفير په توګه غوره سو چې د سردار محمد عزيز ځای ناستی سي، خو دغه مأموريت ئې قبول نه کړ. له ۱۹۳۶ تر ۱۹۳۹ز کال پورې د کابل والي. تقاعد سو او په ۱۹۶۰ز کال کې وفات سو.

[1] -Food and Agriculture Organization


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## محمد یونس رفیق

د محمد عمر رفيق زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۵ز کال کې د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ؛ په ۱۹۵۰ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئـي د نیویورک له پوهنتون څخه خپله ماستري په نړۍ والو حقوقو کې تر لاسه کړه او له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې ئـي د واشنګټن ډي. سي. په امریکن پوهنتون کې او د جانز هاپکینز په پوهنتون کې د نړۍ والو پرمختللو مطالعاتو په پوهنځي کې د خپلي دکتوار په هکله مقدماتي مطالعې وکړې. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د معلوماتو او د نړۍ والو خبرونو د شنني/ تحلیل د مدیریت کارمند. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۷ز کال پورې په ملګرو ملتونو کې د افغان مأموریت اتشه او وروسته د همدې مأموریت لومړی سکرتر. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د نړۍ والو چارو د مدیریت اسیستانت او وروسته مدیر. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د اقتصادي چارو مدیر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۸ز کال پورې په واشنګټن ډي. سي. کې د افغان سفارت قنسل. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۱ز پورې په واشنګټن ډي. سي. کې د نړۍ وال بانک علی البدل اجرائیوي مدیر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کانونو او صنایعو په وزارت کې د کورنیو او باندنیو پانګه اچونو د هڅوني د ریاست رئیس. په ۱۹۸۵ز کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې وفات سو.

## عبدالخالق رفیقي

د عبدالرفیق خان[2] زوی په ۱۹۳۰ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. خپل تحصیلات ئـي په کندهار او هندوستان کې کړي دي. خپله یوه ماستري ئـي په حقوقو کې او بله ماستري ئـي د امریکا په متحده ایالاتو کې اخیستې ده. په ۱۹۶۵ز کال کې د ولسي جرګې غړی. د داؤود د واکمنۍ پر مهال د ننګرهار والي. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په میاشت کې ووژل سو.

## مسعود راحل

په ۱۹۵۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۹ز کال کې ئـي د امریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړ. په ۱۹۷۱ز کال کې له دولسم ټولګي څخه فارغ سو. طبیعي علوم ئـي په کابل کې ولوستل په ۱۹۷۵ز کال کې ئـي دیپلوم تر لاسه کړ. په کابل کې د کرني د بانک کارمند. لویدیځ جرمني ته د زده کړو د دوام لپاره لاړ. د خپل ادبي ژوند یون ئـي ماشومانو ته د لنډو قصو په لیکلو سره پیل کړ. یو شمېر ورځپاڼو او مجلاتو لپاره ئـي ژباړې کړي او د خپل ادبي پنځون کارونه ئـي لېږلي دي.

## سید شفیع راحل

د میر اکبر زوی، په ۱۹۳۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپل تحصیلات ئـي د حبیبیې په لیسي او دهندوستان په بمبئـي کې کړي دي او په هند کې ئـي خپل لیسانس په سیاسي علومو او ماستري ئـي په ژورنالیزم کې تر لاسه کړه.

[2] -Abdul Rafiq Khan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د افغان اعلاناتو مدير. په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل ټايمز سر محرر. په ۱۹۷۳ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت سرپرست مرستيال وزير. مورنۍ ژبه ئې دري ده. له ۱۹۷۴ز کال راهيسي د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي.

## محمد شفيع رهگذر

د مير محمد يحيى زوی په ۱۹۲۲ز کال کې په مزار شريف کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري او په ژورناليزم کې د شپږو کالو رسمي تحصيل لري. په ۱۹۴۰ز کال کې د بيدار مصحح يا سموونکی؛ په ۱۹۴۱ز کال د اعلاناتو او تبليغاتو ليکوال؛ په ۱۹۴۲ز کال کې مدير؛ په ۱۹۴۳ز کال کې د محرر اسيستانت. په ۱۹۴۳ز کال کې د باختر د خبري آژانس کارمند. په ۱۹۴۳ز کال کې د مطبوعاتو په رياست کې د نشراتو مأمور. په ۱۹۴۹ز کال کې د آريانا د مجلې کارمند. د ژوندون محرر. په ۱۹۵۴ز کال کې د انيس د محرر اسيستانت. د بهزاد د سينما مدير. د ننداري محرر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د انيس محرر. د هوټلونو د کمپنۍ [3] مرستيال رئيس. همدا شان د «پروانه» په مستعار نوم ئې هم ليکنې کړې دي. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۶ز کال پورې ئې په کابل کې يو کتاب پلورنځی درلود. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## غلام محمد رحيمي

د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د کانونو او صنايعو د وزارت د صنايعو مرستيال وزير.

## نيلاب رحيمي [4]

د پنجشير دئ. د ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د کابل کتابتون کارمند. ښوونکی او ليکوال؛ د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې.

## نور محمد رحيمي

په ۱۹۳۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د تجارت او نجات په ليسو کې ئې زده کړې کړي او په ۱۹۵۷ز کال کې فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه فارغ سو.او په ۱۹۶۳ز کال کې (؟ - ژ) د وست کانسن له پوهنتون څخه په ژورناليزم کې فارغ سو. د هارورډ او هاوايي پوهنتونونو ته تللی دئ. راپورتر، سرمقاله ليکونکی د محرر اسيستانت او له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل ټايمز محرر. په ۱۹۷۳ز کال کې د انيس سرمحرر او له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اصلاح سرمحرر. په ۱۹۷۸ز کال کې بې کاره سو. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۱ز کال پورې په کابل کې د ملګرو ملتونو د معلوماتو د مرکز کارمند. په ۱۹۸۱ز کال کې هند ته او په ۱۹۸۲ز کال کې د امريکا متحده ايالاتو ته لاړ. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

---

[3] -Hotel Company

[4] - د ژباړونکي يادونه : بشپړ نوم ئې غلام فاروق نيلاب رحيمي دئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

## ولي محمد رحیمي

له پروان څخه د ولي محمد زوی. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۴ز کال پورې ئـې د بیروت په امریکایي پوهنتون [5] کې تحصیل وکړ او خپل لیسانس ئـې تر لاسه کړ. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کولمبیا پوهنتون ته لاړ او خپله ماستري ئـې په سوسیالوژي کې واخیستله. د کابل پوهنتون د ښووني او روزنې د پوهنځي او د ټولنیزو علومو د پوهنځي استاد.

## عبدالرسول رهین

د کابل پوهنتون د کتابتون د کتابدار مـحـمد عیسی زوی. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئـې د تینیسي په پوهنتون کې په کتابدارۍ کې تحصیل وکړ او ماستري ئـې تر لاسه کړه. د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د کابل د عامه کتابتونونو د ریاست رئـیس.

## سید مخدوم رهین

په ۱۹۴۶ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. په کابل کې د تحصیل له بشپړولو وروسته تهران ته لاړ او خپله دکتورا ئـې ددري په ژبې او ادبیاتو کې د تهران له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس. د ۱۹۷۲ز کال په پای کې د کوشاني مطالعاتو د نړۍ والو مرکز رئـیس؛ او د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د کلتور رئـیس. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په میاشت کې د غوایي له پاځون وروسته له کاره برطرفه سو. په ۱۹۸۰ز کال کې پاکستان ته وتـښـتـېـد. د کابل د رژیم پر ضد ئـې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. یو شمـېـر آثار ئـې چاپ کړل لکه : «دقیق نامه»، «گزیـدۀ آثار سید جمال الدین افغاني»، «اشکِ خراسان»، «سوگواران»، «پاسخي به نامـۀ استاد خلیلي» او نور. دی د نولسمي پېـړۍ د افغان روحاني مشر میر احمد چې په میر واعظ مشهور دئ له اعقابو څخه دئ.

**نور بیا**

## حاجي رحمٰن قـُـل

د پامیر د اورغیزیانو قومي مشر. وروسته له دې چې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف: لینک

[5] -American University of Beirut , AUB


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ